## هېواد ډاکتر فتانه نجیب

بیا دې وینمه هېواده
چې غاړې غرونه دې، د ژوندانهٔ ناپایه لوړو څوکو ته
رسېدلې دي
او د ستا د وطن له وینو ډکې چینې
خلقو ته ژوند اوبهٔ ورکوي
بیا دې وینمه هېواده
د وطن زړهٔ راښکوونکې هوا
ستا د ژوند د ګلونو او زړونو په زړهٔ پورې وږمه
بیا دې وینمه هېواده
چې دې په لوښته، لوښته خاوره کښې
تلپاتې ژوند ژواک ټیکاو موندلے
او
وچې دښتې دې بیا
د غاټولو په کروندو اوښتې
او نیلي اسمان دې
ځاځکې ځاځکې مرغلرې لوني
او خاورینې کروندې دې غونډۍ راسپړي
او تود لمر دې
زمونږ د وطن خلقو ته
د وروري، برابرۍ او یووالي
زېرے راوړي
او ستا د سولې په فضا کښې
د پخلاینې او ملګرتیا نغمې اوربدل کېږي
د جګړې او دښمنۍ غصه دې له لمنې لرې کېږي
بیا دې وینمه هېواده
چې له سپوږمۍ او ستورو ډک اسمان دې
پر لوړو یاغي څوکو ځلا شیندي
له درو، درو ئې د ژوندانه ترانې تر غوږو کېږي
او له هغو ترانو څخه دې ستر تل یاد نوم
زما د هېواد د خلقو په مینځ کښې ستایل کېږي

## شعیب صادق

دا بـه ئـې مـرګ وي دا بـه سـور محشـر تـه لاره نیسـي
څــوک چــې د ژونــد د ارتقــا لښــکر تــه لاره نیســي

هغــوي تــه بیــا د خپــل چمــن نــه کــربلا جــوړېږي
څــوک چــې د وخــت د اســتبداد شــمر تــه لاره نیســي

مــونږ د خلــوص پــه زور د ګــړدي نــړۍ زړونــه ګټــو
زمــونږ ملګــري زمــونږ دې هنــر تــه لاره نیســي

پــه دغــه دار د جنــون ســره نشــه ورکېــږي کلــه
فتــوې کــهٔ هــر څــو د منصــور ټبــر تــه لاره نیســي

دومــره خــو راشــه چــې خپــل زړهٔ تــه پــاتې را نــهٔ شــمه
ســتا بــې لــوظې زمــا ســنګین بــاور تــه لاره نیســي

صــادقه خبــر دے کــهٔ ئــې مــخ پــه تــورو زلفــو پــټ شــو
اکثــر خــورې لــړې د ژونــد ســحر تــه لاره نیســي

## طائر ځلاند

دي یــو عــذاب کښــې مبــتلا لــه زمــانو راهیســې
دا خلــق ســر دي پــه ژړا لــه زمــانو راهیســې

یــو ګــلاب قتــل شــو دې ښــار کښــې یــو ځــل برناحقــه
بیــا چــا ونــهٔ لیــده ښــکلا لــه زمــانو راهیســې

شــاید یــو څــوک راوړي د ژونــد د امکــان نــوي زېــرے
ځارمــه لار اســمانه ســتا لــه زمــانو راهیســې

مــونږ خپلــې وینــې ورکــړې بلــو څراغــو تــه د شــپې
بیــا هــم قحطــې ده د رڼــا لــه زمــانو راهیســې

دا لمــر ســپوږمۍ دواړه ملګــري د یــوهٔ مقصــد دي
مــزل کــوي جــلا جــلا لــه زمــانو راهیســې

پــه ویــر لړلــې ده طــایره لکــه زهــر تراخــهٔ
د ګــل پــه شــونډو کښــې مســکا لــه زمــانو راهیســې